# شری



## شری یوه جدي ناروغي ده

شری یوه جدي ناروغي ده چې د دانو او تبې لامل کیږي.

شری یوه ډېره زیاته ساري ناروغي ده. دا هغه وخت نورو کسانو ته خپریږي کله چې ناروغ کس تنفس کوی، ونوخیږي یا پرنجی وکړي.

هرڅوک چې واکسین شوی نه وي که د ناروغ کس سره په اړیکه کې شي، ډیر امکان شته چې د شري په ناورغی اخته شي.

شری ممکن خطرناک ثابت شي، په ځانګړي توګه د ماشومانو او کوچنیانو لپاره. په کمو مواردو کې، د مرګ لامل هم کیدای شي.



## خپله کورنۍ له شری خوندي وساتئ

د خپلې کورنۍ د خوندي ساتلو لپاره ترټولو غوره لار واکسین کول دي. ډاکټران سپارښتنه کوي چې ټول ماشومان باید د شري یا MMR واکسین وکړي او که چیرې کوم چا په ماشومتوب کې نه وي کړي، نو کولی شي په بلوغت کې یې ترسره کړي.

د شري یا MMR واکسین خوندي او د شري په مخنیوي کې ډیر موثر دی. دا د جاغور او روبیلا یا سرخکان پروړاندې هم د خلکو ساتنه کوي.

د MMR واکسین کول د شري په ناروغی د اخته کیدو په پرتله ډیر خوندي دي.

ماشومان معمولا د واکسین له کبله د هیڅ ډول جانبي عوارضو سره نه مخ کیږي. په یو څو کسانو کې که چیرې اغېزې څرګندې شي، ډیری جانبي عوارض لکه تبه، کوچنۍ ګرمکي، یا درد ډیر کم وي او ډیر وخت نه نیسي.

## د MMR واکسین د مغزي وروسته والي لامل نه ګرځي

ساینس پوهان لا تحقیق کوي چې د واکسین له کبله په ماشومانو کې د مغزي وروسته والي عوامل پیدا کړي. ډیری ساینس پوهان موافق دي چې د کورنۍ جینټیکي خواص ممکن په یو کس د مغزي وروسته والي د رامنځته کیدو احتمال پیدا کړي. دوی د مغزي وروسته والي او د کس د اوسیدو د ځاي ترمنځ اړیکي مطالعه کوي.

هیڅ مطالعې د مغزي وروسته والي او MMR واکسین ترمنځ اړیکي ندي موندلي. پدې اړه د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه د ډاکټرانو او ساینس پوهانو لخوا په دقت سره تحقیقات ترسره شوي.

که د شري یا MMR واکسین په اړه نورې پوښتنې لرۍ، نو له خپل ډاکټر څخه پوښتنه وکړئ.

**د نورو معلوماتو لپاره:**

www.doh.wa.gov/measles (یواځې په انګلیسي کې)
www.kingcounty.gov/health/measles

Washington State Department of Health — Public Health Seattle & King County — Somali Health Board

# که فکر کوئ چې په شري اخته یاست، نو باید څه وکړئ

**د شري علایم او دا څنګه خپریږي**

شرى اکثرا د زیاتي تبې، توخې، پوزې بهیدلو، او سرو دانو، اوبلنو سترګو سره پیل کیږي. د 3-5 ورځو وروسته، ګرمکي معمولاً په مخ راوځي او د بدن نورو برخو ته خپریږي.

تاسو ممکن د اخته شوي کس څخه 4 ورځې د دانو راختلو څخه مخکې او په پوستکي د دانو د راڅرګندیدو وروسته تر 4 ورځو پورې شرى ونیسئ.

تاسو ممکن یوازې په هغه خونه کې په پاتې کیدو سره د شري په ناروغی اخته شئ چیرې چې د شري ناروغ پاتې شوي وی. د خونې څخه د کس له وتلو وروسته د شري ناروغي تر دوه ساعتونو پورې په هوا کې پاتې کیږي.

**که داسې علایم وګورئ نو خپل ډاکټر یا کلینیک ته سمدلاسه زنګ ووهئ**

ستاسو ډاکټر یا کلینیک به تاسو ته خبر درکړي که اړتیا وي چې باید ډاکټر ته د لیدني لپاره ورشئ.

د شري ناروغي ډیره ساري ده او ممکن تاسو یې په انتظار خونه کې نورو ته انتقال کړئ. **مخکې** له دې چې ولاړ شئ، نو دا مهمه ده چې خپل ډاکټر یا کلینیک ته وواياست چې تاسو د شرى ناروغی نښې لرئ. دوى به تاسو ته د لارښوونې وکړي چې باید څه وکړئ، ترڅو تاسو ناروغي نورو ته خپره نکړئ.

**که په شري اخته یاست نو په کور کې پاتې شئ**

دا مهمه ده چې شرى باید نورو ته خپور نکړئ.

که په شري اخته یاست نو په کور کې پاتې شئ ښوونځي، کار، سوپر مارکيټ، یا د نورو خلکو کور ته مه ځئ.

که تاسې یا ستاسې ماشوم تبه یا میده دانې لري نو میلمانه مه رابلئ.

DOH 348-651, July 2018 Pashto

**د نورو معلوماتو لپاره:**
www.doh.wa.gov/measles (یواځې په انګلیسي کې)
www.kingcounty.gov/health/measles

دا سند د معلولیت لرونکو خلکو لپاره په نورو بڼو کې شتون لري. د غوښتنې لپاره، مهرباني وکړئ 1-800-525-0127 (TTY/TDD 1-800-833-6388) ته زنګ ووهئ.